# بېشكه مؤمن په ښو اخلاقو سره د روژه نيوونكي او اعتكاف كوونكي درجې ته رسيږي

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: "بېشكه مؤمن په ښو اخلاقو سره د روژه نيوونكي او اعتكاف كوونكي درجې ته رسيږي".
[د شواهدو په اعتبار صحيح دى] [ابو داود او احمد روايت كړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده كړه چې: ښه اخلاق يې خاوند د هغه چا درجې ته رسوي چې په دوامداره توګه د ورځې روژې نيسي او د شپې تهجد كوي او ښه اخلاق په: نيکۍ كولو، ښايسته خبرو، ورين مخ، له نورو څخه په ضرر لرې كولو او له ځان څخه د نورو په ضرر لرې كولو كې رانغاړل شوي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5799